Afghan Lawyers Association in Europe
انجمن حقوق دانان افغان در اروپا
په اروپا کې د افغان حقوق پوهانو انجمن
Vereniging Afghaanse Juristen in Europa

**بلنه**

## په واخان کې د پاکستانیانو د پلمو پر وړاندې د دریدو بلنه:

افغانستان د خپل تاریخ په یوه ناورین ځپلي پړاو کې اوسیږي، چې د هېواد تاریخي برخلیک لا هم د سیالو نړیوالو ځواکونو په لویو جیو پولیټیکو شخړو او د «سترو لوبو» په نوي پړاو او د سیمه ییزو دښمنیو د سیالی په ډګر کې ټاکل کیږي.

بیوسه افغانستان چې په څلور لسیزو جګړو کې لا له وړاندې له سترو ناخوالو سره ښکېل وو، په تېره دوه لسیزه پوره وخت له لاسه ورکول ، د پسات سالارانو د پلمو جوړجاړي او سرتیټي او د امریکا ښیګړې او مهرباني د پاکستان غوسه راپارولو لامل شو چې له یو کال راپه دې خوا له ستر حقوقي ناورین او د ملي او نړیوال مشروعیت له نشتوالي سره مخ شو، چې دوام یې هېواد خوسا ډنډ او د تاریخي دښمنانو د شومو موخو په لور ورټېلوهي . په دې کې اړنګ نشته چې افغانستان د پاکستان د سیوري ترکچې لاندې راتیټ شوی دی

"له لاس ښکلېدو مو مینه پېنو ښکلېدو ته کړې"

"د دوستانو له پېرزو مو پرمختګ مخ ځوړېدو ته کړې"

د افغانستان د کمزورۍ تکی د خلکو د آزاد تکل او ارادې پر بنسټ د یو ځواکمن ملي حکومت نشتوالی دی. د طالبانو د اداري کابو یو کال کړنو او د حکومتوالی په جوړولو کې یې پاتېوالی او د هغو د زورزیاتي کونکو مشرانو خپل ځانګړی شریعت چې په څرګنده په ږیره او پړوني (حجاب ) کې رالنډیږي، د هغه تریخ حقیقت څرګندوی دی چې:

افغانستان د خلکو د رښتیني ویلاړ اوارادې، رښتیني او تلپاتي سولې پر بنسټ د یوه ځواکمن ملي حکومت له جوړېدو څخه واټنونه لیرې دی!

په دې توګه د افغانستان ملي او لوړې ګټې او د هغه د هوسا او بسیا ساتنه د ډلو ټپلو ، ایدیالوجیکي غوښتنو او د مظلومو خلکو له دیني مقدساتو څخه د وسیلې په توګه د ګټې اخیستو بلهاري کیږي.

په داسې یو کرغېړن اکر (حالت) کې دی چې سیمه ییزو او نړیوالو سیالانو او په ځانګړي توګه لالچي (حریص)ګاونډیانو د "اسلامي جمهوریت" په لقبونو او "اسلامي وروړګلوی" په شعارونو سره د افغانستان د لوټلو لپاره متې رانغښتي دي او د هېواد خپلواکی او ملي واکمنی پر وړاندې زغرده ګواښ او ځمکنی بشپړتیا ته زیان رسولی دی .

تر ټولو ښکاره بېلګې یې د ایران له خوا له طالبانو سره د جوړ جاړي په پار له اوبو څخه د ګټې اخیستنې او د پاکستان له

خوا د کانونو او ارزښتناکو ډېرو لوټول دي او د نوموړي هېواد د لومړي وزير له خوا په نازړه سواندی او بې رحمۍ سره اعلانېږي چې:

له اقتصادي ناورين سره د جګړې په موخه مو له افغانستان څخه د ډېرو سکرو د راوړولو په برخه کې له دوه ميليارډو ډالرو زياته ګټه کړې ده !!!

"سترګې دې اندېښمنې دي، چې ملک دې له نورو سره دی!"

(په دې تړاو د طالبانو د اداري چوپتيا او ناروښانه سياست و کړنلاره له پاکستان سره د پردې تر شا راکړه ورکړه په ډاګه باچپازي او د افغانستان د ملي ګټو بلهاري کول ګڼل کېږي.)

په دې روستيو ورځو کې په افغاني او نړيوالو رسنيو کې د بدخشان د واخان ولسوالی په اړه ډېرې خبرې خپرې شوي دي چې د تېرو دوو لسيزو مخينه لري او له بېلابېلو اړخونو يې څېړل د هر افغان او افغاني بنسټونو دنده ده چې د هېواد او خلکو ارمانونو ته ژمن دي .

په اروپا کې د افغانستان د حقوق پوهانو ټولنې د " مارخوړلي " افغانستان د ټوليز ځارنوال او ملاترکونکي په توګه دا موضوع په هر اړخيز ډول تر څېړنې لاندې نيولې او د هېواد د لوړو ارزښتونو او د ولس د ګټو په رڼا کې د واخان د سيمې خلکو تاريخي کړاونو او د هغوی د ژوند د کچې د لوړولو لپاره د اړينو ارتياوو په پام کې نيولو سره، د " نړۍ بام " په ملي پارک بدلول، د افغانستان د وياړ او لوړو ښېرازۍ لپاره لاندينې ټکي وړاندې کوي:

ګرانو هېوادوالو خبراوسئ او هوښيار:

زموږ تاريخي دښمنان له هماغې لارې چې له څوارلسو لسيزو راهيسې يې ستاسو د هېواد پر وړاندې نااعلان شوې جګړه پيل کړې، هڅه کوي چې د هېواد نقشه سيده او د افغانستان « سر وغاړه » ځان پرېکړي

واخان زموږ د مور د ماتيکي ارزښت لري

واخان هېڅکله هم د شخړې وړ نه دی او زموږ د ګران، يوموټي افغانستان د ځان نه بېلېدونکې برخه ده چې د هغه طبيعی زېرمو ، خاورې او اوبو ته هر ډول تمه کول ، د افغانستان پر ځمکنۍ بشپړتيا او ملي واکمنۍ تېری بلل کېږي.

- د ځمکنۍ بشپړتيا ساتل د تاريخي ذمه وارۍ په توګه پرته له سرغړاوي د ټولو ښاروندانو يو بنسټيزه دند ده . د افغانستان د تاريخ له درسونو څخه تر ټولو لويه زدکړه دا ترېخ او رينښتينی حقيقت دی چې:

د افغانستان د يو څپک خاورې پر وړاندې هر ډول جوړجاړی او سرټيټوالی يوازې د خاينو خاورو پلورونکو او پرديپالو لپاره د هميشني شرم ځای ده چې هېواد د ناچارۍ ، بې وزلۍ او ولسونه د پرمختګ او هوساينې له امکاناتو بې برخې کولو پرته بله لاسته راوړنه نه لري .

افغانستان وچې پورې تړلی هېواد او له خلکو او استعمار سره د تاريخي شخړو له امله د همدغو خوارو او تيټو واکمنانو د پرېکړو پاته مرنی (ميراث) دی.

افغانستان د ملګروملتو د سازمان غړی دی او د دغه سازمان ټول غړي هېوادونه ژمن دي چې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتيا پر وړاندې د هر ډول ګواښ له کارولو ډډه وکړي. د ملګرو ملتونو د منشور د دوهمې مادې څلورمه فقره لاندې څرګندتيا لري:

Adres: van Someren Downerlaan 46, 5707 KL Helmond,web. www.hoqooq.eu, , KvK No: 53230108, Bank:NL64 ABNA 046 99353 08
*Contact:: Nederland (A. Basir Dehzad, tel: (31) 06-19480048, e-mail: b_dehzad@hotmail.com. . Denmarken(M.A. Wahid Sadat, tel;(45) 027294949, E-mail: mir-sadat@hotmail.com. Duitsland: (A. Wase Ghafari, tel:(49) 061589216480, e-mail: a.wasegafari@web.de.*

"ټول غړي په خپلو نړیوالو اړیکو کې د هر هغه ګواښ یا ځواک کارولو څخه ډډه کوي چې د یو هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا یا سیاسي خپلواکۍ په وړاندې د ملګرو ملتونو د موخو  په خلاف وي."

په اروپا کې د افغان حقوق پوهانو ټولنې دغه لیک د ملګرو ملتونو عمومي منشي جلالتمآب ته استولی او په دغه سازمان کې د افغانستان له استازي څخه یې غوښتي چې د افغانستان د ځمکنۍ بشپړتیا پر وړاندې د پاکستان د ګواښونو او پلمو دسیسو مسله امنیت شورا ته وړاندې کړي.

د افغانستان لویه شتمني:

د افغانستان ستره پانګه او توپیر یا د اسیا زړه د هغه اقتصادي جیوپولیټیکل وړتیا ده چې د تاریخ په اوږدو کې د تمدنونو د یوځای کېدونکي مرکز، د اسیا د څلورلارې او د سهیلي اسیا ، د منځنۍ اسیا او مځنې ختیځ د نښلونکي ټکي په توګه پیژندل شوی دی.

په دې توګه:

د افغانستان تاریخي دښمنان هڅه کوي چې زموږ هېواد له دغه ستر تاریخي ویاړ څخه بې برخې کړي او له خپلو نوکرانو سره د ستراتیژیک ژوروالي او کنفدراسیون د رامنځته کولو په موخه د ضیاالحق او غلام اسحاق خان له پلانونو څخه ډیر ډارونکي او تبري کونکي خوبونه پوره کړي.

- د نښلولو حیاتي مسله ، د بندرونو منځ ته راوړل او د سړکونو جوړول.

یو روښانه او جوته خبره ده چې دا د ژوند مسله باید د افغانستان د ملي ودې او پرمختګ د بنسټیزو دندو په سر کې وي . د یوه ځواکمن ملي دولت په شتون کې د دغو سترو تاریخي او ملي هیلو هراړخیز پلي کول لاندې دوو آرونو اواصلونو ته بشپړه پاملرنه غواړي.

د افغانستان ملي او پراخې ګټې باید د اجندا په سر کې ځای ولري.

- په هراړخیزه توګه د خلکو ګټې، د ځایی خلکو بیړنیو اړتیاوو او د هغو د ژوند د کچې ښه والی او سیمو ته یې باید ژوره پاملرنه وشي.

په ټولیز ډول روښانو خبرواترو کې د کارپوهانو لخوا د دې مسلې مسلکي څیړنه:

د نړیوالې، سیمه ییزې او ملي اوسنیو پېچلو شیبو کې ټولې سیاسي پرېکړې باید د کارپوهانو د پراخو کتنو پر بنسټ وشي. د بشپړو څیړنو او کتنو پام هرومرو دغو ټکو ته راوګرځي ترڅو د افغانستان د جیو پولیټیکل اقتصاد اهمیت او ګټې د بهرنیو موخو بلهاري نه شي.

د تاریخ په پریکړندو شیبو کې د خلکو تاریخي دندې :

هېوادونه د تاریخ په اوږدو کې د ولسونو لخوا خوندي او ساتل شوي چې د افغانستان تاریخ هم له دغو سترو تجربو ډک دی. په اوسنیو ناخوالو او د خلکو د آزادې ارادې پر بنسټ د یوه پیاوړي ملي دولت په نشتوالي کې د خلکو له خپلواکۍ ، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه ننګه بنسټیزه دنده پر غاړه لري. په دې توګه:

د ویاړ ځای دی چې ژمن ملي شخصیتونه او بنسټونه په دې لاره کې مخکښان دي.

Adres: van Someren Downerlaan 46, 5707 KL Helmond,web. www.hoqooq.eu, , KvK No: 53230108, Bank:NL64 ABNA 046 99353 08
*Contact:: Nederland (A. Basir Dehzad, tel: (31) 06-19480048, e-mail: b_dehzad@hotmail.com. . Denmarken(M.A. Wahid Sadat, tel;(45) 027294949, E-mail: mir-sadat@hotmail.com. Duitsland: (A. Wase Ghafari, tel:(49) 061589216480, e-mail: a.wasegafari@web.de.*

په اروپا کي د افغان حقوق پوهانو ټولنه د مدني ټولني، ملي ځواکونو، ټولنيزو او فرهنګي بنسټونو، د خلکو د حقونو له ملاتړکونکو څخه په کلکه غوښتنه کوي چي:

له هر ډول بیلوالي او توپیر پرته د دې رښیتي ملي غوښتني لپاره د افغانستان سترو ګټو ته لاس واچوو :

- د افغانستان نه بېلېدونکی حق

- د سولي او پرمختګ په لاره کي د افغانستان حق

- د هېواد د ټولو ولایتونو او سیمو د انډولیز او برابرۍ ودې او پرمختیا حق

په رښتیني او زړوره توګه د افغانستان له ملي ګټو څخه ننګه او د ګاونډیانو مشروع ګټو ته درناوی وکړو.

اوس چي لرغونی بدخشان او واخان د پاکستان د تروریزم او ستر شیطاني کړووړو موخي دي، راځئ ټول په یوه چیغه غږ پورته کړو چي:

مونږ ټول بدخشاني او د واخان یو

او په دې توګه به په یوه پراخ مدني خوځښت کي د پیښي د رامنځته کېدو نه مخکي درملنه وکړو.

افغانستان د حماسو او ناورینونو هېواد دی، او د تاریخ په دې تندره کي لمړی ځلي هیلي ژوندی وساتو او په ګډه باید:

د " هیلو له بدلون (انقلاب) " څخه ساتنه وکړو تر څو نړیوالو ته وښیو چي:

افغانستان حق لري او د دې جوګه دی چي :

هرومرو وساتل شي ، پایښت او ټینګښت ومومي او د سولي او پرمختګ لویه لار پرانیزي

په دې ستر ملي پاڅون کي د پاکستان د سترو شیطاني پلمو او لانجو پروړاندي ټول سیاسي ځواکونه، فرهنګي او علمي شخصیتونه، مدني ټولني او د افغان مهاجرینو فعالین، پرته له دې چي افغانستان په تیره نیمه پیړی کي د " شطرنج په کومه ستونزمنه او کړاو خونه " کي اوسېده او یا کوم ایزم او سیاسي نوم سره یې تړاو درلود یا لري، دوی د تاریخ ازمایښت سره مخامخ دي چي څنګه د ملي یووالي په پراخه دایره کي د انساني چاپېر ، ملي اند او د افغانستان په ګډون د ګډ هېواد د سترو ګټو ننګه او ملاتړ کوي.

په درنښت

په اروپا کي د افغانستان د حقوق پوهانو د ټولني رهبری شورا

میر عبدالواحد سادات د ټولني رئیس

Adres: van Someren Downerlaan 46, 5707 KL Helmond,web. www.hoqooq.eu, , KvK No: 53230108, Bank:NL64 ABNA 046 99353 08
*Contact:: Nederland (A. Basir Dehzad, tel: (31) 06-19480048, e-mail: b_dehzad@hotmail.com. . Denmarken(M.A. Wahid Sadat, tel;(45) 027294949, E-mail: mir-sadat@hotmail.com. Duitsland: (A. Wase Ghafari, tel:(49) 061589216480, e-mail: a.wasegafari@web.de.*